د افغانستان اسلامي امارت – امارت اسلامی افغانستان

د ټولګټو وزارت - وزارت فواید عامه

ریاست پلان و پالیسی

آمریت پالیسی و استراتیژی

# د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست لارښود

کال: ۱۴۴۵ هـ ق

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

د اداراتو اجراات او عملیات هغه وخت اغیزمن او معقول کنټرول کیږي کله چې د دوی فعالیتونه د مخکې تعریف شوي تخنیکي او اداري چوکاټونو پر بنسټ وي.

د ټولګټو وزارت د هېواد د سړکونو د جوړولو، پراختیا، خوندیتوب او ساتنې او څارنې د مرکزي او مسئولې ادارې په توګه خپل مکلفیت ګڼي چې د دې وزارت اړوند پروګرامونه او فعالیتونه د اړوندو ریاستونو لپاره د مشخصو لارښودونو د طرحې او جوړولو له لارې اندازه او د اغیزمن تطبیق څخه یې ډاډ ترلاسه کړي. لکه څرنګه چې له دې نه وړاندې د مسلکي او اداري لارښودونو د جوړولو لپاره کوم اغیزمن او عملي ګامونه اخیستل شوي نه وو، نو د دې چارو د ترسره کولو لپاره د پلان او پالیسۍ ریاست ځانګړې کړنې ترسره کړي او دې موخې ته د رسیدو لپاره د ټولګټو وزارت محترم مقام د (۲۹۹) ګڼې او د ۱۴۴۴/۲/۶ نیټې د هدایت لیک پر بنسټ د پلان او پالیسۍ ریاست د دې چارو د تنظیم او اسانتیا برابرولو لپاره وټاکل شو.

لومړی د پلان له مخې د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست له اړوندو برخو او کارکوونکو سره مسلکي او تحلیلي غونډې وشوې او چمتو شوې مسوده د نظر ورکولو په موخه مرکزي ریاستونو ته واستول شوه او په پای کې د مسودې د بشپړیدو او تائید لپاره د پلان او پالیسۍ لخوا یو وړاندیز د ټولګټو وزارت محترم مقام ته وړاندې شو چې د وزارت مقام له اړوندو ریاستونو نه یوه ګډه کمیټه وګمارله چې د اړینو پړاوونو د تیریدو نه وروسته د ټولګټو وزارت د مقام له خوا منظور شوه.

د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست لارښود یو مسلکي سند دی چې د دې ځانګې د صلاحیتونو او مسؤلیتونو حدود جلا کوي او د اړوندو څانګو د فعالیت میتودونه تعریفوي.

د دې لارښود د مادو په پام کې نیولو سره به د ریاستونو ترمنځ په دندو کې د لاس وهنې مخه ونیول شي او د دې ریاست په چارو کې چټکتیا او د اړوندو څانګو د قانون، روڼتیا، او اغیزمنتوب ساحه پیاوړې شي.

# د سرلیکونو نوملړ

## لومړی فصل
## عمومي حکمونه


| ماده | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| لومړۍ ماده : | مبنی | ۱ |
| دویمه ماده : | موخې | ۱ |
| دریمه ماده : | اصطلاح گانې | ۱ |


## دویم فصل
## مکلفیتونه


| ماده | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| څلورمه ماده: | د شرعي احکامو رعایت | ۱ |
| پنځمه ماده: | د انجینري معیارونو رعایت | ۲ |
| شپږمه ماده: | د اداري چلند د مقررې رعایت | ۲ |
| اوومه ماده : | د وخت رعایت | ۲ |
| اتمه ماده: | د نافذ شوو اصولو رعایت | ۲ |
| نهمه ماده: | د اداري د استراتیژۍ رعایت | ۲ |
| لسمه ماده : | د دندو د لایحې رعایت | ۲ |


## دریم فصل
## د اړوندو چارو د پلي کولو څرنګوالی


| ماده | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| یوولسمه ماده : | د اجرایي مدیریت اړوندې چارې | ۲ |
| دولسمه ماده : | د بیړني حالت د برخې اړوندې چارې | ۳ |
| دیارلسمه ماده : | د پلان او بررسۍ برخې اړوندې چارې | ۴ |
| څوارلسمه ماده : | د زیان منونکو ځایونو د برخې اړوندې چارې | ۵ |


## څلورم فصل
## متفرقه حکمونه


| ماده | سرلیک | مخ |
|---|---|---|
| پنځلسمه ماده : | د تطبیق ساحه | ۶ |
| شپاړسمه ماده: | د لارښود بیاکتنه | ۶ |
| اوولسمه ماده : | د انفاذ نیټه | ۶ |



Islamic Emirate of Afghanistan
د افغانستان اسلامی امارت
امارت اسلامی افغانستان
د پلان او پالیسی ریاست
ریاست پلان و پالیسی
Plan and Policy Directorate
1933 ۱۳۱۲
1401
د فوائدعامه وزارت
وزارت فوائد عامه
Ministry of Public Works

## لومړی فصل

## عمومي حکمونه

### مبنی

**لومړۍ ماده:**

دغه لارښود د ټولګټو وزارت د (۲۹۹) شمیرې ۱۴۴۴/۶/۲ نیټې د هدایت لیک پر بنسټ چمتو او ترتیب شوی دی.

### موخې

**دویمه ماده:**

د دې لارښود موخې په لاندې ډول دي:

۱. د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست د دندو، مکلفیتونو او صلاحیتونو تثبیتول، جلا کول او تشریح کول؛

۲. د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست د څانګو د تطبیق د لارې تشریح کول؛

۳. د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست په چارو کې پیاوړتیا، روڼتیا او حساب ورکونه.

### اصطلاح ګانې

**دریمه ماده:**

په دې لارښود کې ذکر شوې اصطلاح ګانې لاندې معنی لري:

**زیان منونکي ځایونه:** هغه سیمې چې د ټولګټو وزارت لخوا په لویو لارو او سړکونو کې پیژندل شوې چیرې چې د سړکونو د بندیدو لپاره د طبیعي خطرونو احتمال شتون لري.

**د سړک ملکیت:** ټولې هغه ودانۍ چې د سړک په جوړښت کې کارول کیږي د سړک ملکیت بلل کیږي.

**ګمارل شوی ټیم:** د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست انجنیر یا انجنیران چې ساحې ته د وزارت د مقام د هدایت پراساس د پلان د پلي کولو د نظارت لپاره ګمارل کیږي.

**بیړني حالت:** دا هغه حالت دی چې د سړکونو مشخصه لاره د طبیعي او ناڅاپي پیښو له امله له عادي کارونې څخه بنده وي او یو غیر معمولي حالت رامینځته شي.

## دویم فصل

## مکلفیتونه

### د شرعي احکامو رعایت

**څلورمه ماده:**

د زیانمنونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست کارکوونکي مکلف دي چې د اړوندو چارو د ترسره کولو پر مهال شرعي احکام او معیارونه رعایت کړي.

## فصل اول

## احکام عمومی

### مبنی

**ماده اول:**

این رهنمود به اساس هدایت‌نامه شماره (۲۹۹) مورخ ۱۴۴۴/۲/۶ مقام وزارت فواید عامه تنظیم و ترتیب گردیده است.

### اهداف

**ماده دوم:**

اهداف این رهنمود قرار ذیل است:

۱. تثبیت، تفکیک و توضیح وظایف، صلاحیت‌ها و مکلفیت‌های ریاست نقاط آسیب پذیر و حالت اضطرار؛

۲. تشریح میکانیزم اجراآت بخش‌های ریاست نقاط آسیب پذیر و حالت اضطرار؛

۳. تقویت شفافیت و حساب‌دهی در امور ریاست نقاط آسیب پذیر و حالت اضطرار.

### اصطلاحات

**ماده سوم:**

اصطلاحات که در این رهنمود ذکر گردیده مفاهیم ذیل را افاده می‌کند:

**نقاط آسیب پذیر:** ساحات که از طرف وزارت فواید عامه در مسیر شاهراه‌ها و سرک‌های مواصلاتی مشخص گردیده و در آن احتمال خطرات طبیعی جهت مسدود شدن راه‌های مواصلاتی موجود باشد.

**دارایی سرک:** تمام ساختمان‌های را که در ترکیب سرک به‌کار برده می‌شود، دارایی سرک می‌نامند.

**تیم موظف:** انجنیر و یا انجنیران ریاست نقاط آسیب پذیر و حالت اضطرار که جهت نظارت از تطبیق پلان تدابیری به اساس هدایت مقام به ساحه توظیف می‌گردند.

**حالت اضطرار:** عبارت از وضعیتی است که مسیر مشخص سرک‌ها در اثر عوامل طبیعی و غیر مترقبه از استفاده عادی باز مانده ویک حالت فوق العاده ایجاد می‌شود.

## فصل دوم

## مکلفیت‌ها

### رعایت احکام شرعی

**ماده چهارم:**

کارکنان ریاست نقاط آسیب پذیر وحالت اضطرار مکلف اند حین اجراء امور مربوط معیارها و احکام شرعی را رعایت نمایند.

د پلان او پالیسي ریاست
ریاست پلان و پالیسی
Plan and Policy Directorate
1933
1401
وزارت فواید عامه
Ministry of Public Works

## د انجنيري معيارونو رعايت

**پنځمه ماده:**

د زیانمنونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست کارکوونکي مکلف دي چې د چارو د ترسره کولو پر مهال ملي او نړیوال انجنیري معیارونه په پام کې ونیسي او رعایت یې کړي.

## د اداري چلند د مقررې رعایت

**شپږمه ماده:**

د زیانمنونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست کارکوونکي مکلف دي چې په رسمي چارو کې د خپلو دندو د ترسره کولو پرمهال د اداري چلند مقرره رعایت کړي.

## د وخت رعایت

**اوومه ماده:**

د زیانمنونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست کارکوونکي مکلف دي چې د وخت مدیریت په پام کې نیولو سره اړوندې چارې تنظیم او عیارې کړي او په خپل وخت یې ترسره کړي.

## د نافذ شوو اصولو رعايت

**اتمه ماده:**

د زیانمنونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست کارکوونکي مکلف دي چې اړونده چارې د قوانینو، مقرراتو او نورو لارښودو سندونو سره سم ترسره کړي.

## د اداري د ستراتيژۍ رعايت

**نهمه ماده:**

د زیانمنونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست کارکوونکي مکلف دي چې د ټولګټو وزارت د ستراتیژۍ سره سم اړوندې چارې تنظیم او عیار کړي.

## د دندو د لايحې رعايت

**لسمه ماده**

د زیانمنونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست کارکوونکي مکلف دي چې په خپلو دندو کې د اړوندو دندو د لایحې ټولې مادې مراعات کړي.

# دريم فصل

# د اړوندو چارو د پلي کولو څرنګوالی

د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت رئیس د څانګې د مشر په توګه د اجرایوي مدیریت او لاندې دریو آمریتونو له لارې اړوندې چارې اداره او رهبري کوي او د اړوندو چارو پلي کولو مسئول دی:

## د اجرايي مديريت اړوندې چارې

**یوولسمه ماده:**

د دې برخې مدیر اړونده چارې په لاندې توګه ترسره کوي او د اړوندو کړنو په اغیزمنه او قانوني توګه د پلي کولو مسؤلیت لري:

١. هغه مکتوبونه او سندونه چې د وزارت له بېلابېلو څانګو له خوا استول کېږي، پرته له ځنډ او وخت ضایع کولو د اجرایي مدیر له خوا اخستل کېږي او د رئیس له لارښوونې وروسته اړونده آمریت ته د اجرااتو لپاره سپارل کېږي؛

## رعایت معیارهای انجنیری

**ماده پنجم:**

کارکنان ریاست نقاط آسیب پذیر وحالت اضطرار هنگام اجرای امور مکلف اند معیارهای انجنیری ملی و بین المللی را مدنظر گیرند.

## رعایت مقرره طرز سلوک

**ماده ششم:**

کارکنان ریاست نقاط آسیب پذیر وحالت اضطرار مکلف اند حین انجام وظیفه در معادلات رسمی مقرره طرزسلوک را رعایت نمایند.

## رعایت وقت

**ماده هفتم:**

کارکنان ریاست نقاط آسیب پذیر وحالت اضطرار مکلف اند امور مربوط را بادرنظرداشت مدیریت وقت تنظیم نموده و عیار نمایند.

## رعایت اصول نافذه

**ماده هشتم:**

کارکنان ریاست نقاط آسیب پذیر وحالت اضطرار مکلف اند امور مربوط را مطابق قوانین، مقررات و سایر اسناد رهنمودی انجام دهند.

## رعایت استراتیژی اداره

**ماده نهم:**

کارکنان ریاست نقاط آسیب پذیر وحالت اضطرار مکلف اند امور مربوط را وفق استراتیژی وزارت فواید عامه تنظیم و عیار نمایند.

## رعایت لایحه وظایف

**ماده دهم:**

کارکنان ریاست نقاط آسیب پذیر وحالت اضطرار مکلف اند تمام مواد لایحه وظایف مربوط شان را در اجرآت کاری خویش رعایت نمایند.

# فصل سوم

# چگونگی اجرای امور مربوط

رئیس نقاط آسیب پذیر وحالت اضطرار در رأس ریاست بوده و امور مربوط را از طریق مدیریت اجرائیه و سه آمریت قرار شرح ذیل مدیریت و رهبری نموده و از اجرای امور مربوط مسوول می‌باشد:

## امور مربوط به مدیریت اجرائیه

**ماده یازدهم:**

مدیر این بخش قرار شرح ذیل اجرآت نموده و از اجرای موثر و قانونمند امور مربوط مسوول می‌باشد:

١. مکاتیب و اسناد که از بخش‌های مختلف وزارت به ریاست مواصلت می‌نماید توسط مدیر اجرائیه بدون معطلی و ضیاع وقت تسلیم گرفته شده، متعاقبا پس از اخذ هدایت رئیس بخش به آمریت مربوط جهت اجرآت بعدی تسلیم داده می‌شود؛

د پلان او پالیسي ریاست ریاست پلان و پالیسی
Plan and Policy Directorate
1933 1312 1401
Ministry of Public Works

۲.د اړوندو څانګو د کړنو څخه د ټاکلې نیټې سره سم موضوع تعقیبېږي او د اجرااتو د ترسره کولو او نه کولو څخه د اداري رئیس ته ډاډ ورکول کیږي؛

۳.د څانګو له خوا د پلې شویو مکتوبونو له رسیدو وروسته سندونه او مکتوبونه د وزارت اړوندو څانګو ته استول کیږي او ډاډ ترلاسه کیږي ؛

٤.د اداري د رئیس د هدایت پر اساس، ټول اړین وړاندیزونه او مکتوبونه ترتیب او تعقیبیږي؛

۵.د ریاست او اړوندو شعباتو ټول خدماتي او تدارکاتي اړتیاوې د اجرایي مدیر لخوا ترسره کیږي او د وزارت د اړوندو ریاستونو سره په همغږۍ کې د اړتیا وړ توکي برابر او بشپړوي؛

٦.د وزارت او نورو باصلاحیته چارواکو لارښوونې د ریاست اړوندو برخو او کارکوونکو ته په خپل وخت استول او سپارل کیږي ؛

۷.په دوامداره توګه د ریاست په اجرایوي څانګه کې د فایل د تنظیم سیستم ته پاملرنه کوي؛

۸.د اجرایي مدیر د ریاست په کچه د غونډو منشي دی او د غونډو چارې د یاد شخص لخوا آسانتیا برابرول ، تنظیم او تکثیریږي؛

۹. د ریاست د ټولو برخو د دفترونو، سندونو او نورو تجهیزاتو ساتنه په مستقیمه توګه د خدماتي کارکوونکو لخوا تنظیم کیږي چې ټولې چارې د اجرایي مدیر تر مدیریت لاندې ترسره کیږي؛

۱۰. د ریاست د ټولو دفترونو او د اړتیا وړ لوښو پاکول د خدماتي کارکوونکو لخوا تنظیم کیږي او ټولې چارې د اجرایي مدیر تر مدیریت لاندې ترسره کیږي.

**د بیړني حالت د برخې اړوندې چارې**

**دولسمه ماده:**

د دې برخې آمر او کارکوونکې اړوندې چارې په لاندې توګه ترسره کوي او د اړوندو کړنو په اغیزمنه او قانوني توګه د پلې کولو مسؤلیت لري:

۱.د ولایتونو د ټولګټو ریاستونو او د سالنګونو ریاست څخه د تړل شوو او خلاصو مواصلاتي سړکونو په اړه په دوامداره توګه راپور اخستل کیږي، او که کومه پیښه د لارو د بندیدو لامل شوې وي، اړونده موضوع تعقیبیږي ترسو د اړونده ولایت د ټولګټو ریاست د امکاناتو له لارې ستونزه حل شي. او که چیرې د ټولګټو ریاست له توان څخه بهر وي ، یاده موضوع د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست د بیړني حالت د برخې لخوا د وزارت مقام سره شریک او یوه معقوله د حل لاره پیدا کیږي؛

۲. از اجراآت بخش‌های مربوط وفق موعد زمانی مورد نظر تعقیب صورت گرفته و از اجراآت و عدم اجراآت آن به رئیس بخش اطمینان ارایه می‌نماید؛

۳. پس از وصول مکاتیب اجراآت شده توسط بخش‌ها، مراسلات و مکاتیب عندالموقع به بخش‌های ذیربط ارسال و از دریافت آن در بخش‌های مربوط اطمینان حاصل می‌گردد؛

۴. به اساس هدایت رئیس بخش، تمام پیشنهادات و مکاتیب مورد ضرورت ترتیب و تعقیب می‌گردد؛

۵. ضروریات و نیازمندی‌های تدارکاتی و خدماتی در تمام بخش‌ها توسط مدیریت اجرائیه مورد رسیدگی قرار گرفته و جهت اکمال آن با مراجع مربوط وزارت هماهنگی ایجاد می‌گردد؛

۶. هدایات ریاست و سایر مقامات ذیصلاح اداره عندالموقع به تمام بخش‌ها و کارکنان ریاست تکثیر و رسانیده می‌شود؛

۷.از سیستم فایلنگ در بخش اجرائیه ریاست بطور مستمر مواظبت می‌نماید؛

۸. مدیر اجرائیه منشی جلسات سطح ریاست بوده و امور جلسات توسط نامبرده تنظیم و تسهیل می‌گردد؛

۹. حفاظت دفاتر، اسناد و سایر تجهیزات تمام بخش‌های ریاست بالواسطه کارکنان خدماتی تنظیم گردیده که این امور تحت مدیریت مدیر اجرائیه صورت می‌گیرد؛

۱۰. تنظیف و پاک کاری شعبات و ظروف مورد ضرورت تمام بخش‌های ریاست بالواسطه کارکنان خدماتی تنظیم گردیده که این امور تحت مدیریت مدیر اجرائیه صورت می‌گیرد.

**امور مربوط به بخش پاسخ اضطرار**

**ماده دوازدهم:**

آمر و کارکنان این بخش قرار شرح ذیل اجراآت نموده و از اجرای موثر و قانونمند امور مربوط مسوول می‌باشند:

۱. در مورد بسته و باز بودن راه‌های مواصلاتی از ریاست‌های فواید عامه ولایات به شمول سالنگ‌ها بطور دوامدار گزارش اخذ گردیده و در صورتیکه کدام حادثه‌یی باعث بسته شدن راه گردیده باشد، موضوع تعقیب می‌گردد تا از طریق امکانات ریاست فواید عامه ولایت مربوط حل مشکل صورت گیرد، در صورتیکه از توان دفاتر ولایتی بیرون باشد، موضوع از طریق بخش پاسخ اضطرار ریاست نقاط آسیب پذیر و حالت اضطرار با مقامات مرکزی وزارت شریک گردیده و راه حل معقول جستجو می‌گردد؛

۲ .د ولایتونو د ټولګټو ریاستونو ژمني پلانونه د اورښتونو له پیل څخه مخکې راټول، توحید او تحلیل کیږي، چې پر بنسټ یې ټاکل کیږي چې ټول زیان منونکي مسیرونه چې د ولایتي قدمو تر مسولیت لاندې دي، کوم مسیرونه او څومره کیلومتره یې د اړونده ولایت د ټولګټو ریاست له امکاناتو (پرسونل، وسایط او ماشینري) لخوا پاکیدای شي او د ترافیکو پر مخ خلاصه ساتل کیږي، چې د دې لپاره د اړونده ریاست لخوا یو وړاندیز د وزارت مقام ته وړاندې کیږي ترسو د اړتیا وړ تیل او روغنیات د مرکز لخوا په پام کې ونیول شي، او که د ولایتونو د ټولګټو ریاستونو له توان څخه بهر وي ، د وزارت د مقام د هدایت له اخیستو نه وروسته د خصوصي شرکتونو سره د قرارداد چارو ته زمینه برابریږي؛

۳ . په پلان شوي ډول، هغه زیان منونکې سیمې سروې کوي چې د خطر او ګواښ احتمال پکې لیدل کیږي او تحلیلي او مشخص راپور یې ریاست سره شریکیږي، همدارنګه د ژمي په موسم کې د ترافیکو پر مخ د سړک د خلاصیدو څخه د خصوصي سکتور لخوا د واورو د پاکولو پروژې او هغه لارې چې د ټولګټو ریاستونو لخوا پاکیږي، څارنه ترسره کیږي او راپور یې چارواکو ته وړاندې کیږي؛

٤ د پکتیا، لوګر، بدخشان، بامیان، پروان او میدان وردګو ولایتونو مفرزه (ټیمونو) د یادو ولایتونو د ټولګټو ریاستونو او د زیانمنونکو ځایونو د ریاست تر مدیریت لاندې دي او یوازې د ماهیپر او سروبي ټیمونه د دې ولایت د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت ریاست تر مستقیم مدیریت لاندې دي؛

٥ په زیان منونکو سیمو کې د رامنځته شوي بیړني حالت په اړه معلومات ترلاسه کیږي او د اړونده ولایت د ټولګټو ریاست ته استول کیږي او د پروژې اسناد په شفاف ډول ارزول او کنټرول کیږي.

**د پلان او بررسی برخې اړوندې چارې**

**دیارلسمه ماده:**

د دې برخې آمر او کارکوونکي اړوندې چارې په لاندې توګه ترسره کوي او د اړوندو کړنو په اغیزمنه او قانوني توګه د پلي کولو مسؤلیت لري:

۱.د هر کال په پیل کې له ولایتونو څخه د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت په برخه کې پلانونو غوښتل کیږي بیا راستول شوي پلانونه له تحلیل او لومړیتوب ورکولو څخه وروسته د وزارت مقام ته د منظورۍ لپاره وړاندې کیږي او په پای کې اړوندو څانګو سره د چارو د ترسره کولو په موخه شریکیږي؛

۲. پلان‌های تدابیری زمستانی ریاست‌های فواید عامه ولایات قبل از شروع بارندگی‌ها جمع آوری، توحید و تحلیل می‌گردد، بر اساس آن مشخص می‌شود که از مجموع مسیرهای آسیب پذیر تحت مسولیت هر قدمه ولایتی کدام مسیرها و چند کیلو متر آن توسط امکانات دست داشته ریاست‌های فواید عامه ولایت مربوط ( پرسونل ، وسایط و ماشینری) پاک‌کاری و بروی ترافیک باز نگهداشته می‌شود که در زمینه طبق پیشنهاد ریاست مربوط به مقام وزارت، روغنیات مورد ضرورت از جانب مرکز در نظر گرفته می‌شود، در صورتیکه خارج از توانمندی ریاست‌های فواید عامه ولایات باشد زمینه قرار داد پاک کاری آن با شرکت‌های خصوصی بعداز اخذ حکم مقام وزارت مساعد می‌گردد؛

۳. بطور پلانی از ساحات آسیب پذیر که احتمال خطرات و تهدید متوجه می‌باشد سروی نموده و گزارش تحلیلی و مشخص به ریاست شریک می‌گردد، همچنان در فصل زمستان از پروژه‌های برف پاکی توسط سکتور خصوصی و مسیرهای که توسط ریاست‌های فواید عامه پاک کاری می‌گردد، جهت باز بودن مسیر بروی ترافیک نظارت نموده و گزارش آن با مقامات ذیصلاح شریک می‌گردد؛

۴. مفرزه‌های ولایات پکتیا، لوگر، بدخشان، بامیان، پروان و میدان وردک تحت مدیریت ریاست‌های فواید عامه ولایات و ریاست نقاط آسیب پذیر بوده وصرف مفرزه ماهیپر و سروبی تحت مدیریت مستقیم ریاست نقاط آسیب پذیر و حالت اضطرار می‌باشد؛

۵. پیرامون حالت اضطرار ایجاد شده در ساحات آسیب پذیر معلومات حاصل گردیده و اسناد ارسالی پروژه ریاست فواید عامه ولایت مربوطه بطور شفاف ارزیابی و کنترول می‌گردد.

**امور مربوط به بخش پلان و بررسی**

**سیزدهم:**

آمر و کارکنان این بخش قرار شرح ذیل اجراآت نموده و از اجرای موثر و قانونمند امور مربوط مسوول می‌باشند:

۱. در ابتداء هرسال پلان ولایات در بخش نقاط آسیب پذیر و اضطرار مطالبه گردیده، پلان‌ها مورد تحلیل قرار گرفته و پس از اولویت بندی و توحید جهت منظوری به مقام وزارت تقدیم و متعاقباً جهت اجراآت به بخش‌های مربوط شریک می‌گردد؛

Islamic Emirate of Afghanistan
امارت اسلامی افغانستان
د پلان او پالیسی ریاست
ریاست پلان و پالیسی
1933 Plan and Policy Directorate ۱۳۱۲
1401
د ټولګټو وزارت
وزارت فواید عامه
Ministry of Public Works

۲.د قراردادي شرکتونو د کاري احجامو بلونه او د ورکړې د بل ترتیب د قرارداد د شرایطو سره سم د دې ریاست د کارکوونکو لخوا څارنه او بررسي کیږي؛

۳.د هر کال په پیل کې، له ولایتونو څخه د فعالو او غیر فعالو ماشینرۍ په اړه اړین معلومات راټولوي؛

٤. د اړوندو زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت پروژو د تطبیق له بهیر څخه بررسي کول او اړونده ریاست ته یې د اغیزمن او شفاف پرمختګ څخه ډاډ ورکوي؛

۵.د چارو په اړه اړین معلومات د ریاست له بېلابېلو څانګو څخه راټول او له تحلیل او توحید وروسته وزارت او اړونده معینیت ته وړاندې کوي.

**د زیان منونکو ځایونو د برخې اړوندې چارې**

**څوارلسمه ماده:**

د دې برخې آمر او کارکوونکي اروندې چارې په لاندې توګه ترسره کوي او د اړوندو کړنو په اغیزمنه او قانوني توګه د پلي کولو مسؤلیت لري:

۱.د سړکونو زیانمنې سیمې چې د کال په بېلابېلو موسمونو کې د سیلابونو، د واورې اوریښت او نورو طبیعي پیښو له امله بندیږي د دې برخې د کارکوونکو او ټیم لخوا خلاصیږي او په ځینو ځانګړو لارو لکه ماهیپر تر پلچرخي دروازې پورې د ژمي په موسم کې مالګه شیندل کیږي؛

۲.د ناڅاپه پیښو په صورت کې لکه د موټرو ټکر، د غښو او ورو ډبرو ښویدل او نورو پیښو چې په زیان منونکو سیمو کې سړک بندوي، د دې برخې کارکوونکو لخوا د پاکولو لپاره ژر تر ژره کړنې ترسره کیږي؛

۳.د پلونو ، پلچکونو او د سړکونو د نورو ودانیو چې د لویو لارو په اوږدو کې د زیان منونکو ځایونو په سیمه کې د سیلابونو د راوتلو او د سیلابي موادو د رسوب له امله بند وي، د دې برخې د پرسونل لخوا د اضافي موادو څخه پاکیږي؛

٤.که چیرې د ساتنې او څارنې پروژه د زیان منونکو ځایونو د برخې تر مسؤلیت لاندې سیمهکې پلي شي، د دې برخې انجنیران به د اغیزمن او با کیفیته پلي کولو لپاره د پلي کولو بهیر څاري.

۲. بل‌های احجام کاری شرکت های قرار دادی و ترتیب بل پرداخت طبق شرایط قرار داد توسط کارکنان این بخش بررسی و نظارت می‌گردد؛

۳. در ابتداء هر سال معلومات لازم را پیرامون فعال و غیر فعال بودن ماشینری از ولایات عندالموقع جمع آوری می‌نمایند؛

۴. از جریان تطبیق پروژه‌های مربوط نقاط آسیب پذیر و حالت اضطرار بررسی و از پیشرفت موثر و شفاف آن به ریاست مربوط اطمینان ارایه می‌نمایند؛

۵. معلومات لازم پیرامون اجراآت را از بخش‌های مختلف ریاست جمع آوری نموده پس از تحلیل و توحید به مقام وزارت و معینیت مربوط ارایه می‌نماید.

**امور مربوط به بخش نقاط آسیب پذیر**

**ماده چهاردهم:**

آمر و کارکنان این بخش قرار شرح ذیل اجراآت نموده و از اجرای موثر و قانونمند امور مربوط مسوول می‌باشند:

۱. ساحات آسیب پذیر در مسیر سرک‌ها که در اثر سیلاب، برف کوچ و سایر آفات طبیعی در فصول مختلف سال مسدود می‌گردد توسط کارکنان و تیم موظف این بخش باز گردیده و در بعضی مسیر های خاص از جمله ماهیپر الی دروازه پلچرخی در فصل زمستان نمک پاشی صورت می‌گیرد؛

۲. در صورت بروز حوادث غیر مترقبه مانند تصادم وسایط، لغزش صخره‌ها وسنگریزه‌ها و سایر اتفاقات که مسیر سرک را در مربوطات نقاط آسیب پذیر مسدود می‌نماید بالواسطه پرسونل این بخش به اسرع وقت در جهت پاک کاری آن اقدام صورت می‌گیرد؛

۳. در اثر جاری شدن سیلاب‌ها و ترسب مواد سیلابی در محدوده پل‌ها و پلچک‌ها و سایر سترکچرهای سرک که در مسیر شاهراه‌های مربوط ساحات نقاط آسیب پذیر می‌باشد توسط پرسونل و امکانات این بخش از وجود مواد اضافی پاک کاری می‌گردد؛

۴. در صورتیکه پروژه حفظ و مراقبتی در ساحه تحت مسولیت بخش نقاط آسیب پذیر تطبیق گردد، انجنیران این بخش جهت تطبیق موثر و با کیفیت از جریان تطبیق آن نظارت می‌نمایند.

## څلورم فصل
## متفرقه حکمونه

**د تطبیق ساحه**

**پنځلسمه ماده:**

دا لارښود د ټولګټو وزارت په کچه د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت د ریاست په برخو کې پلي کیدی شي.

**د لارښود بیاکتنه**

**شپاړسمه ماده:**

دا لارښود د اداري د غوښتنو سره سم بدلیدلی شي او د پلان او پالیسی ریاست لخوا اړونده ریاست سره په همغږۍ کې بیاکتنه، اصلاح ، تعدیل او د وزارت د مقام منظوري اخستلکیږي.

**د انفاذ نیټه**

**اوولسمه ماده:**

دغه لارښود په څلورو فصلونو او اوولس مادو کې ترتیب شوی او د ټولګټو وزارت د محترم مقام له منظورۍ وروسته د پلی کیدو وړ دی.

## فصل چهارم
## احکام متفرقه

**ساحه تطبیق**

**پانزدهم:**

این رهنمود در سطح وزارت فواید عامه در بخش ریاست نقاط آسیب پذیر و حالت اضطرار قابل تطبیق می‌باشد.

**بازنگری رهنمود**

**شانزدهم:**

این رهنمود مطابق مقتضیات اداره قابل تغییر بوده و از طرف ریاست پلان و پالیسی در هماهنگی با ریـــاست مربوط بازنگری، اصلاح، تعدیل و منظوری مقام وزارت اخذ می‌گردد.

**تاریخ انفاذ**

**هفدهم:**

این رهنمود به داخل چهار فصل وهفده ماده تنظیم گردیده و از تاریخ منظوری مقام وزارت مرعی‌الاجرا می‌باشد.

**ترتیب:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| محمد یعقوب میاخیل | حامد حبیب | محمد داود نیازی | سید صالح صالح |
| د اړوند ریاست انجنیر | د ستراتیژی متخصص | د پالیسی متخصص | د پالیسی او ستراتیژی آمر |

**تائید:**

| | | | |
|---|---|---|---|
| قاري حجت الله عباس | مولوی عتیق الله عتیق | عبدالمحمد تره کی | فضل الرحمن فضلي |
| د زیان منونکو ځایونو او بیړني حالت رئیس | د دعوت او ارشاد رئیس | د کورنۍ پلټنې رئیس | د پلان او پالیسی رئیس |

Islamic Emirate of Afghanistan امارت اسلامی افغانستان د افغانستان اسلامی امارت
د پلان او پالیسی ریاست ریاست پلان و پالیسی
1933 Plan and Policy Directorate ۱۳۱۲
1401
د ټولګټو وزارت وزارت فواید عامه Ministry of Public Works

منظور دی:

**الحاج ملا محمد عیسی ثاني**

**د ټولګټو وزارت سرپرست وزیر**

۱۳۸۵ Chief of Staff Ministry of Public Works Islamic Emirate of Afghanistan